ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
ابادي اوونيزه
هفته نامه آبادی
ګڼه: ۲۰ | مسلسل نمبر: ۶۲
شنبه، د صفر المظفر ۲۷مه، ۱۴۴۶ هـ. ق کال





# سرلیکنه

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د سنبلې مياشتې په اتمه نېټه د ازبيکستان هېواد په رسمي بلنه د دغه هېواد ترمذ ښار ته سفر وکړ او هلته يې «د ترمذ نړيوال سوداګريز مرکز» د پرانيستې په مراسمو کې د ګډون ترڅنګ د اذربايجان لومړي وزير له مرستيال او د ازبکستان لومړي وزير سره وکتل. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال «د ترمذ نړيوال سوداګريز مرکز» د پرانيستې مراسمو ته وويل، دا يوازې يو تجارتي مرکز نه دی؛ بلکې د دواړو هېوادونو ترمنځ د دوستۍ، همکارۍ او شراکت يو نوی فصل دی، چې د دواړو هېوادونو د اوسېدونکو لپاره د اوږدمهالې هوساينې او پرمختګ زمينه مساعدوي. په ليدنو کتنو کې بيا پر سوداګريزو اړيکو، د لاجوردو لارې بېرته فعالېدو، د ازبيکستان او اذربايجان هېوادونو له لوري په افغانستان کې د پانګونې په اړه خبرې اترې شوې. دغه راز د صادراتو او وارداتو د کچې لوړوالي په خوا کې افغانستان ته د اوسپنې پټلۍ له پاره د تخنيکي ټيمونو رالېږلو په اړه هم بحث وشو.

ازبيکستان ته د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال په سفر کې څو ټکي ډېر مهم دي، د ترمذ نړيوال سوداګريز مرکز پرانيسته، د لاجوردو لارې بيرته فعالېدل، د افغانستان د تازه ميوې د ترانزيټ له پاره د زمينې برابرېدل او په افغانستان کې پانګونه. دا ټول اقتصادي موضوعات دي او د افغانستان له پاره ډېر مهم او ارزښتناک دي. د افغانستان له پاره دا مهمه ده چې له ګاونډيو، سيمې او نړۍ سره خپلې سوداګريزې اړيکې پراخې کړي او ترڅنګ يې خپلو صادراتو ته ترانزيټي او بديلې لارې پيدا کړي. د ترمذ نړيوال سوداګريز مرکز په پرانيستې سره به زموږ محصولاتو او توليداتو ته نوی مارکيټ پيدا شي. تر هغې چې خپلو توليداتو او محصولاتو ته دا ډول مارکيټونه پيدا نه کړو، سوداګري مو پرمختګ نه شي کولای. د لاجوردو لار چې د کراچۍ له بندر پرته افغانستان له اروپا، منځني ختيځ، افريقا، بالکان او ترکيې سره نښلوي، د افغانستان سوداګرۍ لپاره تر ټولو لنډه، ډاډمنه، ارزانه او خوندي لار ده. ددې لارې په فعالېدو سره به موږ په مشخصو هېوادونو له تکيې څخه خلاص شو. دا چې ازبيکستان زموږ د تازه ميوو د ترانزيټ له پاره اسانتياوې برابروي، په دې سره به زموږ سوداګر نور له دې ستونزو خلاص شي چې هره ورځ يې په تازه ميوو بار لسګونه موټر په بندرونو کې بند پاتې او په ميليونونو افغانۍ زيان ګالي. دغه راز د اوسپنې پټلۍ شبکو غځول د هېواد د سوداګرۍ او سوداګريز بيلانس په ساتلو کې رغنده رول لري، که مو دا شبکې په بشپړ ډول ورغول شوې، نو بيا به د افغانستان سوداګري نړيواله شي.

لنډه دا چې اسلامي امارت پر ټولو هغو لارو چارو تمرکز کړی چې کولای شي، د هېواد اقتصادي وده ګړندۍ، سوداګري پراخه او په ټوله کې د سوداګرۍ له پاره بديل مارکيټونه او بديلې لارې پيدا شي. ددې چارو په ترسره کېدو سره به افغانستان له يوه لوري له خپل ستراتيژيک او جيوپولټيک موقعيت څخه ګټه پورته کړي وې او له بل لوري به د نړۍ د نورو هېوادونو په څېر د ګوتو په شمېر هېوادونو باندې له متکي کېدو څخه خلاصون ومومي.

د ازبکستان لومړي وزير:

## ازبيکستان: چمتو يو چې سر له نن ورځې د منځنۍ اسيا هېوادونو ته د افغانستان د تازه ميوو د ترانزيټ لپاره هر ډول زمينه برابره کړو



۲ صفحه

## معاون اقتصادی ریاست الوزراء با معاون نخست وزیر آذربایجان دیدار نمود



۲ مه صفحه

## د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د قوش تېپې کانال د سربند له چارو ليدنه وکړه



۴ مه صفحه

**د ازبکستان لومړي وزیر:**

## چمتو یو چې سر له نن ورځې د منځنۍ اسیا هېوادونو ته د افغانستان د تـــازه میـــوو د ترانزیټ لپاره هـــر ډول زمینـــه برابره کړو



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ازبیکستان ته د خپل سفر پر مهال «د ترمذ نړیوال سوداګریز مرکز» د پرانیستې په مناسبت د جوړو شوو مراسمو په څنډه کې د ازبکستان هېواد له لومړي وزیر عبدالله عارف اوف سره وکتل. د لیدنې پر مهال د دغه هېواد لومړي وزیر وویل، افغانستان د ازبیکستان په بهرني سیاست کې مهم ځای لري او په همدې موخه تاشکند چمتو دی، چې له کابل سره د خپلو سوداګریزو او ترانزیټي اړیکو د پراخولو په موخه له خپلې خاورې په تېرېدو سره د منځنۍ اسیا هېوادونو ته افغانستان د تازه میوو د صادراتو لپاره هر ډول اسانتیاوې رامنځته کړي.

ښاغلي عارف اوف زیاته کړه، ازبیکستان له حیرتان څخه تر هرات پورې د اوسپنې پټلۍ شبکې د غځولو لپاره خپل تخنیکي ټیمونه معرفي کړي او چمتو دي، چې په راتلونکي سپټمبر میاشت کې د دغه پروژې د پیل او همدا راز د ګازو د استخراج په موخه افغانستان ته راشي. نوموړي وویل، دوی چمتو دي چې له اسلامي امارت سره په همغږۍ د آمو سیند د څنډو لپاره د استنادي دیوال جوړولو په برخه کې ګډه کار وکړي.

د ازبیکستان لومړي وزیر همدا راز اسلامي امارت ته بشپړ اطمینان ورکړ چې کابل ته د نوموړي د وروستي سفر پر مهال بحث شوي موضوعات به ژر تر ژره عملي بڼه خپله کړي او په دې برخه کې د دواړو هېوادونو ګډ ټیمونه له نږدې کار کوي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، اسلامي امارت د تړولو هغو چارو د عملي پیل لپاره چمتو دی چې په خبره یې، هغه د دواړو هېوادونو د اړیکو په لا نږدې او پیاوړي کولو کې رغنده رول لوبوي.

# معاون اقتصادی ریاست الوزراء با معاون نخست وزیر آذربایجان دیدار نمود

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء حین سفر خویش به ازبکستان در حاشیه مراسم افتتاحیه «مرکز تجارتی بین المللی ترمذ» با معاون نخست وزیر آذربایجان دیدار نمود. معاون اقتصادی ریاست الوزراء در این بازدید از افتتاح سفارت کشور آذربایجان در کابل ابراز امتنان نموده و از دولت آذربایجان و سکتور خصوصی این کشور خواست تا با استفاده از فرصت های ایجاد شده در زمینه سرمایه گذاری در افغانستان، در بخش های گوناگون سرمایه گذاری نمایند. به گفته محترم ملا صاحب، امارت اسلامی به طور کامل از آنان حمایت می کند و تمامی تسهیلات لازم را در این زمینه ایجاد کرده است.

معاون نخست وزیر آذربایجان در جریان سخنان خود گفت



که کشورش آماده فعال سازی مجدد مسیر راه لاجورد به منظور گسترش روابط تجارتی خود با افغانستان و کشورهای منطقه است و همچنان در بخش تجارت سطح صادرات و واردات خود را به افغانستان افزایش میدهد. وی آمادگی خود را برای سرمایه گذاری برای ایجاد کارخانه های صنعتی در افغانستان ابراز کرده، گفت، آنها آماده همکاری با امارت اسلامی در زمینه استخراج معادن هستند.

در پایان این دیدار بر ادامه همکاری‌های دو طرف در این زمینه یاد شده تاکید به عمل آمد.



## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال:

# «د ترمذ نړیوال سوداګریز مرکز» د کابل او تاشکند ترمنځ د دوستۍ، همکارۍ او شراکت نوی فصل دی

د ریاســت‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ســنبلې میاشتې په اتمه نېټه د ازبکســتان هېواد په رسمي بلنه د دغه هېواد ترمذ ښار ته سفر وکړ او هلته یې «د ترمذ نړیوال سوداګریز مرکز» د پرانیســتې په مراسمو کې ګډون وکړ. د دغه سفر پر مهال له محترم ملا صاحب سره د صنعت او سوداګرۍ وزیر محــترم نورالدین عزیزي او یوشــمېر نــورو امارتي مسوولینو هم ملتیا کوله.

د ریاســت‌الوزراء اقتصادي مرســتیال «د ترمــذ نړیوال سوداګریز مرکز» د پرانیستې مراسمو ته وویل، نن د دواړو هېوادونو ترمنځ د ســوداګریز مرکز په پرانیستې سره د ګډو تجارتي اړیکو او ســیمه‌ییزې همکارۍ په برخه کې یو ډېر اساسي ګام اخیستل کېږي. دغه مرکز به په دواړو هېوادونو کې د پانګونې فرصتونه، ســوداګریز مناســبات او کاري فرصتونه لا زیات کــړي، د تولیداتو او محصولاتو لپاره به نوی مارکېټ پیدا او په ټوله کــې به ورسره اقتصادي وده ګړندۍ شي.

محترم ملا صاحب زیاته کړه، دا یوازې یو تجارتي مرکز نه دی؛ بلکې د دواړو هېوادونو ترمنځ د دوستۍ، همکارۍ او شراکــت یو نــوی فصــل دی، چــې د دواړو هېوادونو اوســېدونکو لپاره د اوږدمهالې هوساینې او پرمختګ زمینه مساعدوي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د دغه مرکز ارزښت ته په اشــارې سره وویل، د یــاد مرکز په پرانیســتې سره به د محصولاتو د تولید، پروســس او صادراتو اسانتیاوې زیاتې او سیمه‌ییزو او نړیوالو بازارونو ته به لاسرسی اسانه شي. دا به نه یوازې د دواړو هېوادونو پر اقتصادي اړیکو مثبت تاثیر وکړي، بلکې د سیمې په کچه به یو مهم اقتصادي مرکز او د مرکزي او جنوبي اســیا هېوادونو لپاره یوه تجارتي دروازه هم واوسي. همدارنګه یاد سوداګریز مرکز به د تکنالوژۍ او نوښــتونو په برخه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ ګډه همکاري هم پیاوړې کړي.

د محترم ملا صاحب په خــبره، دا مرکز به افغان او ازبیک سوداګرو ته د ســوداګرۍ په برخه کې اړینې اسانتیاوې او فرصتونه رامنځته کړي، څو د خپلو محصولاتو او تولیداتو د خرڅلاو لپاره مناسب بازارونه ومومي او د سیمې په اقتصادي پرمختګ کې به فعاله ونډه واخلي.

په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په نړیوالو غږ وکړ چې د افغانستان اسلامي امارت، د اقتصاد محوره پالیسۍ له مخې له ټولو هېوادونو سره مناســبې متقابلې اقتصادي او ســوداګریزې اړیکې غواړي او پــه دې برخه کې د هر ډول همکارۍ او اسانتیاوو برابرولو ته ژمن دی.



# د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د قوش تېپې کانال د سربند له چارو ليدنه وکړه



د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د قوش‌تېپې کانال د سربند له چارو ليدنه وکړه. محترم ملا صاحب د دغه ملي کانـال د سربند جوړولو په برخه کې د ملي پراختيا شرکت له ترسره شـوو کارونو ستاينه وکړه او د دغه شرکت کارکوونکو ته يې هدايت وکړ، چې د سربنـد او کانال چارې په پوره دقت او بنـه ډول پر ټاکلي نېټه بشپړې کړي.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د قوش تېپې کانال د کرنې او اوبو مديريت په برخه کې مهم وباله او ويې ويل، چې اسلامي امارت يې په خپل ټول توان سره په ټاکلي وخت د چارو بشپړولو ته ژمن دی.

د يادونې وړ ده چې اوسـمهال د دغه ملي کانـال د سربند جوړولو او همدا راز د دوهم فاز چارې په ښه ډول د افغان انجنيرانو له لوري رواني دي، چې زرګونو کسانو ته يې‌کې کاري فرصتونه برابر شوي دي.

# روی عملکرد و مشکلات شرکت های ارائه دهنده خدمات کارگو و پُستی بحث شد

در جلســه نوبتی کمیته تخنیکی کمیسیون اقتصادی که پنجــم سنبله ۱۴۰۳خورشیدی در قصر مرمرین تشکیل شده بود، فعالیت ها و مشکلات شرکت های ارائه دهنده خدمات کارگو و پُســت و همچنان تعدادی از موضوعات دیگر مورد بحث و بررسی قرار گرفت.

پس از بحث و تبادل نظر همه جانبه در جلســه تصمیم بر آن شد که شرکت های کارگو مکلف اند تا زیر نظر وزارت صنعت و تجــارت اموال کمــتر از ۴۶ کیلوگرم را انتقال ندهــد و در صورت عــدم توجه به این اندازه، از ســوی وزارت صنعــت و تجارت برخــورد قانونی خواهد شــد. همچنان شرکت هــای ارائه دهنده خدمات پُســتی نیز مؤظف شــدند که زیر نظر وزارت مخابــرات و تکنالوژی معلوماتی اضافه‌تر از ۴۶ کیلوگرم اموال انتقال ننمایند و در صورتیکه از این اندازه اضافه انتقال نماید، از ســوی وزارت مخابرات و تکنالــوژی معلوماتی با برخورد قانونی روبرو خواهد شد.

همچنــان بــه کمیته مشــترک متشــکل از نمایندگان معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء، وزارت های صنعت و تجارت، مخابرات و تکنالوژی معلوماتی وظیفه ســپرده شد تا قوانین خدمات پســتی را زیر نظر وزارت عدلیه تدوین، آن را از طریق کمیسیون اقتصادی طی مراحل و برای منظوری بــه مقام عالــی رهبری امارت اســلامی ارائه نمایند، این نظر برای تصمیم گیری نهایی به کمیســیون اقتصادی ارسال شد.











# د ستندرډ عالي شورا لومړنی ناسته او په‌کې د تصویب شوو ستندرډونو ارزښت ته کتنه



**لیکوال: امان‌الله حنیفي**

## سریزه

د حکومتونو له اساسي دندو یوه هم دا ده چې د خلکو د ژوند کچې ښه کولو لپاره کار وکړي او هغوی ته د وخت له اړتیا سره سم په معیار او ستندرډ برابر خدمات وړاندې کړي. د خدماتو وړاندې کولو پر مهال تر هرڅه لومړی بیا د هغه کیفیت او ستندرډ مهم دي، چې مستقیم د خلکو پر ژوند اغیز لري. حکومتونه کوښښ کوي چې د شرایطو او غوښتنو مطابق ملي، سیمه‌ییز او نړیوال ستندرډونه جوړ او عملاً یې د توکو د تولید په کیفیت او همداراز پر وارداتو هم تطبیق کړي، چې له مخې یې د یو هېواد په اقتصاد کې د پام وړ بدلون رامنځته کېږي.

اسلامي امارت هم واک ته له رسېدو سره سم دې موضوع ته جدي پاملرنه کړې او په همدې موخه د ستندرډ ملي اداره فعالیت کوي. پر دې اداري سربېره د ریاست‌الوزراء عالي مقام د حکم پر بنسټ د ستندرډ عالي شورا هم رامنځته شوې ده، د دې شورا له دندو یوه هم دا ده چې د ستندرډ ملي اداري له لوري بحث شوي ستندرډونه او



ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
اباډي اوونيزه
هفته نامه آبادی

کوډونه وارزوي او تر هراړخيز تحليل وروسته يې تصويب او د عملي تطبيق په اړه يې ټولو ته هدايت وکړي. د ستنډرډ عالي شورا په لومړنۍ ناسته کې ۲۴ ستنډرډونه تر هراړخيز بحث وروسته تصويب او د تطبيق په موخه يې ټولو وزارتونو او ادارو ته لارښوونه وشوه.

موږ په دغه مقاله کې د ستنډرډ عالي شورا لومړنۍ ناستې او پکې د تصويب شوو ستنډرډونو ارزښت ته لنډه کتنه کوو.

## ستنډرډ عالي شورا

د ستنډرډ عالي شورا د رياست‌الوزراء عالي مقام د (۲۰۸۳)مې ګڼې حکم پر اساس رامنځته شوې، چې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د نورو دندو ترڅنګ د يادې شورا مشري هم پر غاړه لري. د ستنډرډ عالي شورا هېواد ته د بې کيفيته او غير معياري توکو د وارديدو او همدارنګه د هېواد دننه د غير معياري او خپلسرو ودانيزو چارو په برخه کې د ستنډرډ ملي ادارې ستراتيژۍ او عمومي پاليسيو د تصويب او د هغو له تطبيق څخه د څارنې، د ملي ستنډرډونو او ودانيزو ملي کوډونو او نورمونو د تصويب او د تخنيکي مقرراتو د طرحو د تائيد په موخه رامنځته شوې ده.

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ، لوړو زده کړو، کور او ښار جوړولو، ټولګټو، عامې روغتيا، صنعت او سوداګرۍ، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ، کانونو او پټروليم، ټرانسپورټ او هوايي چلند او ماليې وزارتونو مرستيالان، د علومو اکاډمۍ لوی رئيس، د چاپېريال ساتنې ملي ادارې لوی رئيس، کابل ښاروال، د ښاروالیو د عمومي رياست مرستيال، د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې او معدن او صنايعو خونو مديره هيئت رئيسان يې دايمي غړيتوب لري.

د ستنډرډ عالي شورا سکرتريت د ستنډرډ ملي ادارې پر غاړه دی.

## د ستنډرډ عالي شورا لومړنۍ ناسته

د ستنډرډ عالي شورا لومړنۍ ناسته د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د اسد مياشتې په ۳۰مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره شوه. په دغه غونډه کې د ستنډرډ ملي ادارې عمومي رئيس ملا فيض‌الله تميم، د دغه شورا دايمي غړو او د خصوصي سکتور استازو هم حضور درلود.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د يادې شورا لومړنۍ غونډې ته د خپلو خبرو پر مهال ووېل، افغانستان د اقتصادي ودې او پراختيا په برخه کې لومړني او ابتدايي ګامونه اخلي، چې اړتيا ده د سيمه‌ييزې او نړيوالې سيالۍ لپاره له ملي او نړيوالو معيارونو سره سم محصولات او خدمات وړاندې کړي. هغه زياته کړه، ستنډرډونه د محصولاتو او توليداتو د کيفيت او اعتبار تضمينوونکي دي څو په ملي، سيمه‌ييزو او نړيوالو بازارونو کې سيالي وکړي او په نړيواله کچه ومنل شي.

محترم ملا صاحب د ستنډرډونو ارزښت ته په اشارې سره ووېل، هر ستنډرډ چې موږ يې په افغانستان کې تصويب او پلې کوو، په حقيقت کې د هېواد د اقتصادي ودې او دوامداره پراختيا سره اساسي مرسته کوي. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د ستنډرډ عالي شورا اساسي فعاليت ته په اشارې سره زياته کړه، د دغه شورا اساسي دنده يوازې د ستنډرډونو معرفي کول نه دي، بلکې اساسي مسووليت يې دا دی چې د ستنډرډونو له مؤثر تطبيق څخه ډاډ حاصل کړي، څو د هېواد د ملي ودې او پراختيا په برخه کې اساسي او عملي ګامونه پورته شي. هغه زياته کړه، دغه شورا به د يو ملي او بنسټيز مسووليت له مخې د موجوده او راتلونکو نسلونو د اړتياوو په نظر کې نيولو سره هڅه کوي چې د ستنډرډونو په تطبيق کې عدالت، شفافيت او د دوامدارې پراختيا اصل تأمين کړي.

همدا راز محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ووېل، د ستنډرډونو مؤثر تطبيق به په توليداتو کې د همغږۍ، د سوداګرۍ پراختيا، د اضافي لګښتونو د مخنيوي او د وخت د سپما سبب شي. د دې ترڅنګ به د پرمختللو هېوادونو څخه افغانستان ته د نوې ټکنالوژۍ د لېږد سبب وګرځي.

هغه پر ټولو ملي سوداګرو او صنعت‌کارانو غږ وکړ چې دغه لوی ملي مسووليت په پوره ژمنتيا، مسلکيتوب او اخلاص ترسره کړي او د دغه شورا له لوري تصويب شوي ستنډرډونه عملي کړي .

## د ستنډرډ عالي شورا له لوري تصويب شوي ستنډرډونه

د ستنډرډ عالي شورا په لومړنۍ غونډه کې چې د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د اسد مياشتې په ۳۰مه نېټه ترسره شوه، له اجنډا سره سم د ستنډرډ ملي ادارې د تخنيکي کمېټو له لوري د وړاندې شوو ۲۴ ستنډرډونو په اړه هر اړخيز بحث وشو. د دغو ستنډرډونو له جملې ۱۴ د مشخصاتو او ۱۰ د ازموينېت لارو چارو اړوند دي چې تر هراړخيز بحث وروسته تصويب او ټولو اړوندو وزارتونو او ادارو ته سپارښتنه وشوه، څو ياد ستنډرډنه په ښه ډول تطبيق، د ستنډرډ ملي اداره يې وخت پر وخت څارنه ترسره او خپل راپور د ستنډرډ عالي شورا له مشرتابه سره شريکه کړي.

دغه ستنډرډونه د خوراکي، ساختماني، نفتي، کيمياوي او پلاستيکي توکو او همدا راز نساجي اړوند دي. پر دې سربېره د ستنډرډ ملي ادارې د تخنيکي کمېټو له لوري د ۳ ستنډرډونو په اړه بياځلې کتنه هم ترسره شوې ده چې بياځلې کتنه او پکې راغلی تعديل يې هم د ستنډرډ عالي شورا له لوري تصويب شو.

## د تصويب شوو ستنډرډونو ارزښت

د ستنډرډ عالي شورا له لوري تصويب شوي ستنډرډونه د هېواد په اقتصاد او سوداګرۍ کې خورا ډېر ارزښت لري. دغه ستنډرډونه ملي، سيمه‌ييز او په نړيواله کچه دي چې د ټولو ماخذونه نړيوالې معتبرې او ټولو هېوادونو ته منونکې سرچينې دي. له شک پرته د دغو ستنډرډونو په عملي کولو سره به په خوراکي، ساختماني، نفتي، کيمياوي او پلاستيکي توکو او همدا راز نساجي اړوند برخو کې د مشخصو شوو توکو صادرات د نورو هېوادونو ته زيات شي، ځکه چې په معيار او ستنډرډ به برابر وي.

د يادو ستنډرډونو په تطبيق سره به موږ د معيار خوا ته لاړ شو او له ټيټ کيفيته توليد څخه به را وګرځو. له دې وړاندې په يادو برخو کې مشخص ستنډرډونه موجود نه وو چې له امله يې په خراب کيفيت چې هم يې د انسانانو صحت او هم يې

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصــادي او تــولنیزو مسایلــو په برخــه کــې
د ریاســت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اباديِ اوونیزه
هفته نامه آبادی



چاپېریال ته زیان رسـاوه، تولیدات تـرسره کېدل. د یادو ستندړدونو د تصویب یوه تر ټولو مهمه ګټه دا ده چې موږ به له دې وروسته په یادو برخو کې د تولید لپاره هغه مشخص شوی ستندړد ولرو چې هم به د انسانانو صحت پکې خوندي وي او هم به د چاپېریال خیال پکې ساتل شوی وي.

د یادو ســتندړدونو په عملي کېدو سره به زموږ صنعت وده وکړي او د نړیوال صنعت د پرمختګ لارې ته به ځان برابر کړو. څومره چې زموږ صنعت پر ســتندړد برابربرېږي، هومره پرمختګ او د نورو له تجربو ګټه اخیستلی شو، چې د صنعت پرمختګ د یو هېواد د اقتصادي پرمختګ اساس جوړوي.

د ستندړد عالي شـورا له لوري د تصویب شوو ستندړدونو د تطبیق په پایله کې به وخت ســپما شي، د بې ځایه مصارفو مخنیوی به وشي او قیمتونه به راټیټ شي. په دې سره به په کم وخت او لږ لګښت په ارزانه بیه ډېر تولیدات ولرو چې وبه کولی شــو د خپلو هېوادوال د اړتیاوو پوره کولو سربېره بهر هېوادونو ته هم منل شوي صادرات ولرو.

د دغو ســتندړدونو په تطبیق سره به د افغانستان د صادراتو کچه زیاته شي، له ډېرو هېوادونو سره به سوداګریزې اړیکې جوړې شي او څومــره چې زموږ صادرات او ســوداګریزې اړیکې پراخېږي، هماغومــره زموږ اقتصاد چټکه وده کولی شي. څکه د صادراتو په زیاتېدو سره افغان سوداګر توانېږي چې په نړیوالو بازارونو کې ښه موقف ترلاسه کړي او هلته د پلــور او پېر په نتیجه کې په زیاته اندازه بهرني اســعار پیدا کړي. د زیاتو بهرنیو اسعارو ترلاسه کول د یو هېواد د ســوداګرۍ قوي پشــتوانه جوړوي چې دا چاره د هراړخیز پرمختګ سبب ګرځي.

افغانســتان اوسمهال د ســتندړد د نړیوالو ســازمانونو لکه (ISO)، (SARSO)، (SMIIC)، (ILAC) او (IEC) غړیتوب او د ستندړد د نړیوالو ســازمانونو په ناستو کې فعال حضور لري، چې د یادو ستندړدونو په تصویب سره به یې موقف لا پیاوړی او په نړیواله کچه به یې د سوداګرۍ اعتبار هم قوت پیدا کړي .

افغانستان به د یادو ستندړدونو په تطبیق سره وتوانېږي چې د ســوداګرۍ کچې پراخولو لپاره مثبته سیالي وکړي، څکه ســوداګري هغه وخــت پیشرفت کولی شي چــې تولید او محصول په ستندړد برابر وي. افغانستان د سیمې په منځ کې د سوداګریز او ترانزیتي پُل حیثت لري چې یاد ستندړدونه به یې دغه حیثیت لا پیاوړی کړي.

د دغو ستندړدونو په تطبیق سره به افغانستان وتوانېږي چې هېواد ته د بې کیفیته توکو د واردېدو مخنیوی وکړي. څکه موږ به د خپلې اړتیا وړ توکو د وارداتو لپاره هغه ســتندړدونه ولرو چــې هم به مــوږ د صحت ضمانت کــوي او هم به چاپېریال ته کوم زیان نه رسوي. موږ ولیدل چې د اسلامي امارت په راتګ او د ســتندړد ملي اداري د بې سارو هڅو په پایله کې د زرګونو ټنه بېلابېلو خوراکي توکو، درملو، نفت او ګازو او پــر دې سربېره د ډېرو نورو بې کیفیته توکو د وارداتو مخه نیول شوې .

موږ وخت ناوخت په خپلو سترګو وینو او یا هم په رسنیو کې اورو او ګورو چــې هېوادوال د بې کیفیتــه خوراکي توکو، درملو، ساختماني توکو او... له کیفیت څخه شکایت کوي.

د دغو ســتندړدونو پــه تطبیق سره به په یــادو برخو کې هېوادوالو ستونزې تر ډېره بریده حل شي.

## پایله

هېوادوالو ته د باکیفیته تولیداتو او محصولاتو د عرضه کولو په برخه کې د ستندړد ملي اداري فعالیت او د دغه اداري له لوري د رامنځته شوو ســتندړدونو د تصویب او څار په برخه کې د ســتندړد عالي شــورا فعالیت ډېر مؤثر دی، چې په لومړی غونــډه کې یــې د خوراکي، درملو، ســاختماني، کیمیاوي، نفتي، پلاســتیکي توکو او نساجي برخو کې 24 ستندړدونه تصویب او ټولو اړوندو ادارو ته یې د عملي تطبیق هدایت وکړ.

د یادو ســتندړدونو تطبیق به د صادراتو پر زیاتوالي او همدا راز د سوداګرۍ کچې پر پراخېدو مثبت اغېز ولري. په دې سره به افغانســتان د ســوداګرۍ په برخه کې مثبته سیالي وکړي او په لږ لګښت، کم وخت او ښه قیمت سره به د نړۍ ډېرو هېوادونو ته خپل توکي ولېږي، چې په بدل کې به یې د خپل هېواد اړتیا ته په کتو باکیفیته واردات ولري.

د دغو ســتندړدونو په تطبیق سره به‌له یــوې خوا د هېوادوالو صحت خوندي شي او له بل لوري به د چاپېریال په ســاتنه کې هم رغنده‌رول ولوبوي، چې په ورته وخت کې به صنعت هم ورسره وده وکړي.

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابــل په شهزاده ســرای کې د افغانی پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ۷۰,۳۷؋ | ۷۰,۴۰؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ۲۴۲؋ | ۲۴۲؋ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ۱,۲۷؋ | ۱,۲۸؋ |
| ۱ | اروپايي یورو | ۷۷,۸۳؋ | ۷۷,۸۷؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۰,۷۷؋ | ۰,۷۷؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۸۳۹؋ | ۸۳۹؋ |
| ۱ | انګلیسي پوند | ۹۲,۴۰؋ | ۹۲,۴۴؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۱۸,۷۵؋ | ۱۸,۷۶؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۹,۱۶؋ | ۱۹,۱۷؋ |
| ۱ | چیني ین | ۹,۹۲؋ | ۹,۹۳؋ |